مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۱۲

# د پروفیسور سیال کاکړ ادبي خبرې

په پښتو معاصر تاریخ کې زما د معلوماتو له مخې درې داسي پیژندل سوي شاعران او لیکوالان لرو، چي تخلصونه یې یو ډول (سیال) دي.

دیادو درې کسانو څخه لومړی میراجان سیال، چي د پېښور په کوډاخیلو کي په (۱۳۳۰هجري قمري) کال زیږېدلی او په ( ۱۹۹۰م) کال د فروري میاشتي پر ۱۸ تاریخ مړ دی.

میراجان سیال ۸ چاپ اثار خپلو لوستونکو ته پرې ایښي دي.

دوهم کس (غازي سیال) دی، چي په(۱۹۳۳م) د پېښور په بنو ولسوالۍ کي زیږېدلی او پروسږکال د (۲۰۱۹نومبر۲۷مه) په خپله سیمه کي وفات او هلته ښخ دی.

غازي سیال پر ۱۶ چاپ او ځیني ناچاپ کتابونو سربېره (۵۰) پښتو فلمونو ته بېلا بیلي سندري هم لیکلي دي.

خو نن، چي موږ او تاسي دلته د کوم سیال د یادوني او لمانځنوڼدي لپاره راټول سوي یو، هغه پوهاند ولي محمدخان سیال کاکړ دی.

پوهاند سیال کاکړ، په( ۱۹۳۵م) کال د سویلي پښتونخواکوټي د (پښین) ولسوالی په (سرانانو)، چي وروسته بیا په یاده سیمه کي د افغان کډوالو لوی کمپ ؤ زیږېدلی دی

سیال کاکړ نژدې ۴۰ ټوکه کتابونه لیکلي دي، چي زیاته برخه یې ولسي ادبیات او شعري ټولګي دي.

نن زه غواړم د دغه لوی پښتون خدمتګار پر یو کتاب (ادبي خبرې) چي نسبتا په کوچنی کچه خپوری سوی دی ورغږېږم

دغه کتاب ټول ۵۶مخونه لري

کتاب په (۱۹۷۴م) کال د (پښتوادبي دنیا کوټه) لخوا خپور سوی دئ

چاپ چاري یې په (جنګ پرنټینګ پریس) یا مطبعه کي ترسره سوي دي

د کتاب تیراژ او بیه نه ده معلومه، چي په هغه وخت کي داکتاب څو جلده خپورسوی او بیه یې څو پاکستانی روپۍ ورته ټاکل سوې وه، خو د لومړي چاپ یادونه یې کړې ده، چي یاده سوې پورته نیټه ددغه کتاب د لومړي چاپ تاریخ دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

د کتاب د خطاطی چاري عبدالسلام په هنري ګوتو ترسره کړي، چي فروفیسور سیال کاکړیي تر نامه مخکي د (ګران) کلمه لیکلي ده، نه پوهېږم، چي(ګران) د نوموړي خطاط تخلص دی او که (سیال صاحب) له نازه ورته لیکلی دی، دامي په دې خاطر یادونه وکړه، چي اکثره تخلصونه له نامه وروسته لیکل کېږي، نو ښایي، چي یاد خطاط پر پوهاند سیال کاکړ ډېر ګران ۀ.

کتاب ساده ( توره او سپینه) پښتی لري.

د پښتی پر اول مخ یې په غټ لیک د کتاب نوم ( ادبي څېرې) لیکل سوی دئ

د کتاب ترنامه لاندي شپږ عکسونه وینو، چي اول عکس د علامه رشاد بابا، منځوی عکس د لوی استاد پوهاند علامه حبیبي او دریم عکس د فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا دئ.

تر یادو دریو عکسونو لاندي پر دغه اول مخ د استاد حبیب الله رفیع، کبرا مظهري او استاد عبدالله بختاني عکسونه خپاره سوي دي.

تردغو عکسونو لاندي لږ په کوچني لیک د کتاب د لیکوال نوم هم ترسترګو کېږي.

تر یوې اوږدې پنډې کرښې وروسته د خپروندویه ټولنې نوم د کتاب د نامه په اندازه د لیدونکو پام جلبوي.

د(ادبي څېرې) د پښتی پر څلورم مخ اردو ژبي لیکوال فروفیسورخلیل صدیقي په لسم نیمو کرښو کي د سیال کاکړ دغه هڅه ستایلي او لیکلي یې دي

« لکه څنګه، چي د ادب په هنداره کي د تهذیب د غزول سویو کرښو، زاویو او د تهذیبي پر مختګ د ورکو سوو منزلونو د سایو مطالعه کېدلای سي، نو د دې هندارو په ځلا کښي ، چي کوم پنځوونکی هنر مند مهم رول لوبولای سي د هغه د هنر بېلګي د هغه د شخصیت عکسونه دي ایا د دغه عکس انځوریز کړه وړه د کاغذ پر مخ په ځانګړي ډول د بیان حق ادا کولای سي؟

راځئ! د سیال کاکړ په وړاندي کړل سوو ادبي څېرو کښي د پښتنو شاعرانو او ادیبانو د شخصیت د کړو وړو د جاج اخیستلو کوښښ وکړو. د غه کوښښ د سیال کاکړ د دې نوښت د ستایلو هم یو ډول کېدلای سي.»

پوهاند ولي محمد خان سیال کاکړ د کتاب اهداء په دې روانه جمله، دغو لاندي کسانو ته کړې ده:

« چي په مینه کي خدمت د خپلي ژبي، څکه وړ دي د اهداء لاندي لیکوال.

جناب دوست محمد خان کامل، ښاغلي دوست شینواري، ګران همېش خلیل، محترم ډاکټرمجاوراحمد زیار او محمد نوازخان طائر»

د ( ادبي څېرې) کتاب په څلورم مخ کي استاد سیال کاکړ خپلي خبري د خوشحالخان خټک په دې مشهوربیت پیل کړي دي:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه – سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

د کتاب لیکوال په خپلو خبرو کي د پښتنو لیکوالانو او شاعرانو پر ارزښت اوددوی پر وړاندي د ټولني پر ساړه غبرګون ږغېدلی دئ.

ده لیکلي، چي په پښتنو کي د ژوندیو قدر نه سته، خو چي مړ سي، نو یوڅو د ګوتو په شمار قلموال یې یوازي په رسنیو کي د جنازې خبر یاهم له وچي مجبورۍ یوڅو توصیفي کرښي په کوم اخبار یا مجله کي ولیکي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه د مثال په ډول د هیواد د لوی فولکوریسټ استاد محمد ګل نوري نوم یاد کړی، چي ټول ژوند یې د پښتو ولسي ادب بډاینې ته وقف کړی ؤ خو لا تراوسه یې هغسي درناوی نه دی سوی، څومره، چي د هغه حق ؤ.

هغه زیاتوي، ما د ادبي څېرې تر سرلیک لاندي ، د لویي تاریخي پښتونخوا، یوشمېرلیکوالان او شاعران د خپلو عکسونو په وسیله معرفي کړي دي.

دغه ښکلي انځورونه به د همېشه لپاره د کتاب په امانتدارو پاڼو کي خوندي پاته وي، که خدای کول د ادبي څېرې دوهمه برخه به ډېر ژر ستاسو حضور ته وړاندي سي.»

دغه رازمو د یوشمېر داسي کسانو څېرې هم راوړي دي، چي تل یې ملي خیانت کړی او اجتماعي ګټي یې، د شخصي ګټو په خاطر تر پښو لاندي کړي دي، دا ملي خاینان به موږ راتلونکي کهول ته، پر یوبل مناسب وخت د لیک په وسیله برښڼد کړو.»

که پورته خبرو ته غور وسي، نو استاد د خپلو خبرو په وروستیو کي (د خاین او شخصي ګټي خوښوونکو) یادونه هم کړې او ددوی د څېرو د رسوا کول لپاره یې مناسب وخت ته د انتظار ژمنه کړې ده.

اوس پوښتنه داده، چي ایا د یاد کتاب له چاپ څخه د نژدې نیمي پېړی له تېرېدو وروسته استاد (مناسب) وخت پیداکړی، که لا تراوسه ورته څار دی؟

سیال کاکړ په دغه کتاب کي د ده له ۲ عکسونو سره یوځای د (۹۲) نورو ادبي څېرو عکسونه چاپ کړي دي، چي په دې ډول ټول ۹۴ عکسونه کېږي.

عکسونه په ترتیب د دغو ښاغلو دي، چي تر هر عکس لاندي یې یوازي د هغه نوم په دې ډول لیکلی دی

۱ –پوهاند علامه عبدالحی حبیبي

۲ –عبدالرؤف خان بېنوا

۳ – قیام الدین خادم

۴ – عبدالشکورخان رشاد

۵ – عبدالله بختانی

۶ – همېش خلیل

۷ – ګران حبیب الله رفیع

۸ – پروفېسرسیال کاکړ

۹ – ډاکټرمجاوراحمد زیار

۱۰ – باچا خان

۱۱ – حافظ نصرالله

۱۲ – کبراجان مظهري

۱۳ – علي محمد بزګر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۴ ــ ملا عبدالسلام اشپزی

۱۵ ــ ابوالخیرځلاند

۱۶ ــ دوست شینواری

۱۷ ــ عبدالعلي اخندزاده

۱۸ ــ ایوب صابر

۱۹ ــ محمد دین ژواک

۲۰ ــ خان عبدالصمد خان اڅکزی

۲۱ ــ سلطان محمد پاني

۲۲ ــ عبدالاکبر خان اکبر

۲۳ ــ سعدالدین شپون

۲۴ ــ حمزه شینواری

۲۵ ــ ډاکټرعبدالحمید خان کاکړ

۲۶ ــ فضل احمد غازي

۲۷ ــ عبدالله جان مغموم

۲۸ ــ مولوي رحمت الله مندوخېل

۲۹ ــ عبدالجلیل وجدي

۳۰ ــ حافظ خان محمد کاکړ

۳۱ ــ ډاکټرعبدالحکیم هلالي

۳۲ ــ ډاکټرسیدانورالحق

۳۳ ــ محمد جعفراڅکزی

۳۴ ــ ضیاء الدین لاجوري

۳۵ ــ عنایت الله محرابي

۳۶ ــ محمد عارف غروال

۳۷ ــ عبدالباري اسیر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۳۸ – محمد نعیم سالارزی

۳۹ – سعید گوهر

۴۰ اغا محمد خان کرزی

۴۱ – محمد نذیرخیال

۴۲ – علي محمد منگل

۴۳ – قلندرمؤمند

۴۴ – دوست محمد خان کامل

۴۵ – ډاکټرسیدال شاه فولاد/ د غنی ( ف) پرځای یی کوچنۍ ( پ) لیکلي ده.

۴۶ – معتمد شینواری

۴۷ – صاحبزاده حمیدالله

۴۸ – اجمل ختک

۴۹ – محمد اسماعیل سرېن

۵۰ – میراجان کاکړ

۵۱ – خیرمحمد خان شینواری

۵۲ – عبدالخلیق خلیق

۵۳ – عبدالغفور پردېس

۵۴ – محمد رسول فریادي

۵۵ – سید بهاؤالدین مجروح

۵۶ – عبدالخالق تارن

۵۷ – ولي محمد طوفان

۵۸ – محمد شېرین سنګري

۵۹ – محمد نظیر درانی

۶۰ – پرېشان ختک

۶۱ – عبدالله جان رنځور

۶۲ – سلطان محمد صابر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۶۳ – عابد شاه عابد

۶۴ – ربنواز مایل

۶۵ – حبیب الله اپرېدی / بیا هغه د ( ف او پ) خبره ده

۶۶ – خیرمحمد عارف

۶۷ – سرور سودایي

۶۸ – عمرگل عسکر

۶۹ – علاؤالدین مجروح

۷۰ – محمد گل شاه خوستی

۷۱ – یوسف گل

۷۲ – فاروق شاه سمایلزی

۷۳ – عزیزالله غمزده

۷۴ – ګډ عکس(ګران حبیب الله رفیع، سیال کاکړ،جناب گل باچا الفت، محمد حسن ولسمل ) د عکس ځای نه دی معلوم

۷۵ – نصیرالحق ادر

۷۶ – خندرویه فاروق

۷۷ – ګډ عکس (محمد حسن ولسمل، ګران حبیب الله رفیع، سیال کاکړ، جناب عبدالرؤف خان بېنوا) د عکس ځای نامعلوم

۷۸ – کمال الدین شېرانی

۷۹ – عبدالواجد واجد

۸۰ – ګډ عکس (د سیال کاکړ اود ګران حبیب الله رفیع یو ګډ یادګاري انځور/ پرسر یې ورته لیکلي ( د پغمان په تاریخي طاق ظفر کې)

۸۱ – دین محمد افغاني

۸۲ – عبدالقدوس درانی

۸۳ – سیف الدین تاجک

۸۴ – اخترمحمد اول

۸۵ – اخترمحمد ثاني



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

۸۶ – گل محمد خان کاکړ

۸۷ – غلام حیدر فداء

۸۸ – محمد حسن غازي

۸۹ – محمد حسن ضیاء

۹۰ – سخي داد خوستی

۹۱ – سلطان محمد مندوخېل

۹۲ – عبدالغني شاکر

۹۳ – حاجي بازار

۹۴- فروفېسر سیال کاکړ

**نیمګړتیا وي**

۱ – که چیري پروفیسور ولی محمد سیال کاکړ د کتاب چاپولو پرمهال د یادو ادبي څېرو داسي عکسونه راغونډ کړي وای، چي هغه مهال بل ځای نه وای خپاره سوي، نو د کتاب مینه وال به نورهم ډېر وای!

اوس په دغه کتاب کي راغلي عکسونه اکثره د هغه وخت په بیلا بیلو مطبوعاتو کي هم چاپ سوي دي.

پوهاند سیال کاکړ کولای سوای، چي د یادو کسانو څخه یي ددوی ناچاپ عکسونه تر لاسه کړي وای! ځکه ده په دي ادبي څېرو کي له ډېرو کسانو سره ادبي ناستي ولاړې، قلمي تړون او ښه ملګرتوب درلود،نو که یي خپله له دغو ادبي څېرو یاهم د هغوی له نورو ملګرو څخه د ناچاپ مهموعکسونو غوښتنه کړي وای، زه فکر نه کوم، چي په دي برخه کي دي دوی له مرستي څان سمپولی وای، بلکي لاهم خوشحالېدل، چي په نوي کتاب کي یي نوي عکسونه خپرېږي.

۲ – که چیري د کتاب د چاپ پرمهال له ادبي څېرو سره دهغوی هر یوه لنډه پېژندګلوي هم چاپ سوې وای، نو به یي له یوې خوا د پښتو ادبیاتو له محصلانو، ځوانو لیکوالانو، شاعرانو او ان له مبتدي څېړونکو سره د یادو ادبي څېرو په لا پېژندنه کي ښه مرسته کړې وای او ترڅنګ به یي دغه کوچني، خو مهم اثر د ادبي لیکل سویو تذکرو په منځ کي ښه غوښن ځای موندلی او له دغه اوسنی رسالیي بڼي به هم راوتلی وای!

۳ – په کتاب کي ځیني عکسونه دومره په کمزوري کوالټي ( معیار) چاپ سوي او یوشمېر یي بیا دومره سولیدلي، تکراري او هغه د چاپي مطبوعاتو په اصطلاح کلیشه یي دي، چي ترچاپ یي نه چاپ غوره وو، د کمزوري کوالټي د عکسونو په مثال کي د ملا سلام اشېزي اود حاجي بازار عکسونه یادولای سو،ځکه سم نه ښکاري اوداسي معلومېږي، چي له خورا خوړین عکسونو څخه یي دلته کاپي اخیستل سوی ده.

د زیات تکراري عکسونو په لړ کي د خان عبدالصمد خان، پاچاخان، فاضل استاد بېنوا، کبرا مظهري ، اجمل ختټک او نورو ادبي څېرو عکسونه یادولای سو.

**ښېګڼي**

که دغه یاد (ادبي څېرې) کتاب د انصاف په تله وتلل سي، نو تر پورته یادونو یي ښېګڼي ډېري دي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

۱ – ( ادبي ښېرې) د خپل وخت یوه پرځای هڅه ده، ځکه له سرکال څخه پوره ( ۴۶) شپږڅلوېښت کاله ترمخه، چي انټرنيټ او ورسره ترلي تخنيکي وسايل چا نه پېژندل او  ان هرچا په عادي ليني ټليفون کي لا د خپل زړه په خوښه هروخت او هرځای ته خبري نه سوي کولای، نو په دغسي وخت کي د لراوبرڅخه د پښتنو قلموالو نژدې سل عکسونو راټولول، بيا  د کوټي په ښارکي، چي دولتي ژبه يي اردو او انګليسي ده په کتابي بڼه يي چاپول اسانه خبره اود هرچا کار نه و.

۲ –  اوسمهال، چي د ادب هرمينه وال  ددغه کوچني، خو مهم کتاب پاڼي اړوي، له ډېرو داسي ادبي ښېرو سره مخامخ کېږي، چي يايي له دې نړۍ سره د تل لپاره په مخه ښه کړې ياهم ډېر سپين ږيري سوي دي، نو د (ادبي ښېرې) کتاب ددغوعکسونو ليدل ځوانو قلموالو ته دا خبره ور په زړه کوي، چي که اوس ځوانان ياست، سبا د سپين ږيرتوب لکړي ته اړ کېږي، په کارده، چي سرله همدې ګړيه د خپلو زده کړو او مطالعي پر بنسټ د مورنۍ ژبې ( پښتو) صادقانه خدمت ته  ملا وتړي، ترڅو سبار ورځ تاسو هم په ښه نامه ياد او د ادبي ښېرو په ډله کي وګڼل سی.

۳ – ددغسي کتابونو چاپ ځوانو ليکوالانو ته لارښوونه کوي، چي د خپل وخت د ځوانو او عمر پخو ادبي ځيرو عکسونه رايوځای کړی، ترڅو نومونه اوعکسونه يي تر راتلونکو ادبيانو، مينه والو او ځيرونکو پوري په ښه ډول ورسيږي، چي وروسته بيا هغوی کولای سي، له دغو نومونو او عکسونو څخه يي په خپلو کتابونو کي ډېره ګټه واخلي اوپر همدې بنسټ يي په چاپ او ناچاپ اثارو پسي هم سترګي ورغړوي او د ورکېدو او هيرېدو له طوفانه يي وژغوري.

۴ – زه  په اخر کي د  درونډ استاد پوهاند ولي محمد خان سيال کاکړ  دغه مهم ادبي زيار ته  په درنه سترګه ګورم، د لوی ښښتن(ج) له دربارڅخه دده د روغ صحت هيله کوم، ځکه استاد دامهال د سپين ږيرتوب له امله د ناروغی پر بستر پروت دئ.

ددوی بل کړي ادبي ځراغونه دي تل روښان او  لارويان دي يي د نورو يرغلونو ترڅنګ  له هرډول فرهنګي يرغلونو  څخه هم په امن کي وي.

۱۰ – ۰۹ – ۲۰۲۰ کندهار اطلاعات اوکلتور رياست

---

**ماخذونه**


اوسني ليکوال ، بېنوا عبدالرؤف، کندهار چاپ مطيع الله په زيار

۲ –غازي سيال د ګلناربيګم له استادئ تر ناول ليکني، د غزانور غزا ليکنه (https://www.bbc.com/pashto/pakhtunkhwa-50587084)


---

يادونه : د غه مقاله  په کندهارکي د پتي خزاني د تاليف د درې سوه يمي کاليزي په وياړ ،( سيال کاکړ د فولکورمخکښ ښېرونکی) په




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ